AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال
۲۰۲/۱۲/۲۳

**پاکیستان**

# څه وايي؟ څه کوي؟ او څه غواړي؟

په سيمه کې د پاکيستان او په لوی سر کې د انګريزي ښکېلاک سياست هم خورا پېچلی دی، هم ډېر سرسري او ساده. فقط بايد په دې پوه شو، چې دغه مصنوعي پوځي واکمني ولې په دې سيمه کې جوړه شوه او د سرې جګړې پرمهال څه ونډه ورسپارل شوې وه، تر سړې جګړې راروسته د زبرځواکونو له ګټو سره سم پاکيستاني سياست او د پوځي چاونۍ لپاره جوړ شوي دغه هېواد برخليک څنګه بدل شو؟

په پاکيستان کې روان پوځي ناورين او په افغانستان کې يې له نوې واکمنۍ سره زرګري خرپ و ترپ او های و بګير دا ټول مديريت شوي دي. لاتراوسه هيڅه د دغه هېواد د پوځي استخباراتو له کنترول څخه بهر نه‌دي.

په دې منځ کې د پاکيستان اقتصادي کړکېچ رينښتيا دی. دا هېواد پر پيسومينځلو د ځار نړيوال بنسټ FATF له دې کبله په خړ ليست کې اچولی و، چې ګواکي ترهګر روزي. د پاکستان په اړه د ترهګرپالنې کليشه دومره مشهوره شوې، چې دغه هېواد يې له هره اړخه څنډې ته کړی دی، له همدې کبله اوس غواړي د ترهګرۍ بوينه مرداره د افغانستان خاورې ته راوغورځوي. پاکيستان يوه مصنوعي جګړه جوړه کړې، په خپل غاصبانه قلمرو کې هغه انسانان (پښتانه او بلوڅ) وژني، چې پاکيستاني پوځ ته يې تر ژوند مرګ غوره ښکاري او دربيمه درجه اتباع بلل کيږي. پاکيستان پښتانه افراطيون وسله‌وال کړي او پښتانه پرې وژني، په پنجاب و سند کې کراره کراري ده، پښتون و بلوڅ وژل کيږي او پاکيستان شپه و ورځ چيغې وهي، چې د ترهګرۍ قرباني دی او ترهګر له افغانستانه ورځي. دا هغه اپوته شوې چيغې دي ، چې افغانستان په تېرو شلو کلونو کې د پاکيستان په وراندې وهلې، خو دا دی، په دوو کلونو کې دا کيسه سرچپه شوه. د پښتنو په وژلو دغه هېواد خپل نړيوال دريځ له ترهګرپالنې د ترهګرۍ قربانۍ ته وربدل کړ.

پاکيستان ته بله ورپېښه ربړه دا ده، چې نور نو د تېرې نيمې پېړۍ په شان پريومهال د چين و امريکا دواړو يارانه پاللی نه‌شي. امريکا ورته کرښه راکاږلې، چې يا زه يا زما سيال. امريکا په تېره نيمه پېړۍ کې له چين سره د پاکيستان تر شاتو خوږه او تر سمندر ژوره (!) يارانه ځکه زغمله، چې يو خو يې د شوروي او بيا په ظاهره د ترهګرۍ په ضد جګړو کې پاکيستان ته اړتيا ډېره وه او بله دا، چې تر ۲۰۰۰ کال مخکې چين لا له اقتصادي پلوه دومره نه و پرسېدلی، چې د امريکا ګټې دې تر دې بريده وګواښلای شي. اوس امريکا په زغرده اعلان وکړ، چې روسيه يې دوښمن او چين يې تر ټولو لوی اقتصادي رقيب دی او پرې به نه‌ږدي، چې ژېرښامار تر دې لا غوټ او خونړی شي.

د پاکيستان لويه تمه سي پيک (يوه لار، يو کمربند) ته وه. دا د چين ځو ميلياردي پروژه وه، چې پاکيستان يې د لنګې غوا په شان لوشلو ته باديه ډنګوله، خو اوس لکه چې امريکا دغه باديه له خاورو ورډکه کړه .بلوڅ پاڅون د چين ګټې ګواښي. بلوڅان جدي دي. بلوڅان د پښتنو په شان د پنجابي مدرسو په ايډيولوژيک منتر کې ښکېل نه دي، نه د پاکيستان پروا لري او نه د پاکيستاني استخباراتي ملايانو او نه د هغوی د تکفير.

پرپاکيستان دواړه لنګې غواګانې وچيږي. امريکا لغتې اچوي، چې له چينه لاس وانه‌خلي تکۍ شيدې به درېږی نه ږدم او چين ورته وايي: لاره راکړه او زما د ځوميليارد ډالري پروژې امنيت ټينګ کړه، چې غولانځه درپرېږدم او که نه زهر دې شه.

پاکيستاني پوځ چې د سړې جګړې پر مهال له نړيوالې سيالۍ پريمانه پيسې ګټلې د انګريز و امريکا د لنګو غواګانو په وچېدو چين ته داړې جنيګې کړې، خو له ژېر ښامار څخه ويښته شکول له اور سره لوبه ده.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

پاکیستاني پوځ د خپل تاریخ په اوږدو کي لومړی ځل دی په خپلمنځي ویش و تربګنۍ اخته شوی، دا شی د پاکیستان ملا ماتولای شي. د پوځ دننه پټي و ښکاره شخړې او نادودې اقتصادي لاملونه لري. پوځ د پاکیستان خاوند و، د ټولي پاکیستاني ګټي سرشیر و پیروی یي خوړ. جنرالانو یي په نړی کي رومانتیک ټاپوګان په پیسو اخیستل او د نړۍ ښکلي ماڼۍ او نجوني د دوی وې. ساده پوهاوی یي دا دی، چي د دغه پرسول شوي پوځ خپټه غټه، اشتها ډېره خو مخه یي سپېره ده.

اوسنی پاکستان دغه پوځ په ګېډه مړولای نه شي، ځکه نور نو نه د سړي جګړي نازولی دی او نه د ترهګری د جګړې اسانچاری، بلکي پر داسي دوه‌لارې ولاړ دی، چي یا باید چین ته مخه کړي، یا امریکا ته.

په پاکیستان کي روانه جګړه د چین او امریکي د ګټوشخړه ده او پاکیستان یي له دواړو څخه د څه بودولو په تمه مدیریت کوي، لاتراوسه یي قربانیان یوازې ساده پښتانه او مظلوم بلوڅان دي. پاکیستان په روستیو شپېو کي چین ته وایي: پیسي راډېرې کړه، چي د سی- پیک امنیت خوندي کړم او امریکا ته وایي: شکرانه راډېره کړه، چي له خپل ګاونډي ملګري ښامار سره د دوستی پرېښودلو په قیمت خو وارزي.

امریکا ته د پاکیستاني پوځي واکمن روستی سفرد همداسي یوې غوښتني لپاره و، خو له ورایه داسي ښکاري، چي امریکا چندان دانه نه‌ده ورته اچولې.

پاکیستان په بشپړه بېرحمی افغان کډوال راشړي، ځکه نور نو دوی ته د سړي جګړي او د امریکايي پروژو د چلولو د زماني په شان وړیا سرتیري نه ښکاري، خو اصلي کیسه دا ده، چي په دې شورماشور او لچری کي نړی ته ښیي: چي ګواکي هم پخوا افغان کډوال ترهګر وو او هم اوس.

پاکیستان له پښتنو ملتپالو پخوانی [ دهیند د ویش له زماني] ویره لري، د دې لپاره انګریزانو درې لارې ورښوولې وې:

**لومړی:** پښتانه په دین مبین خلک دي، نو په عقیدوي لومه کي راښکېلولای شي. پرېمانه استخباراتي مدرسې، جوماتونه او خانقاوې ورته جوړې کړه او سرکاري ملایان، شېخان او پیران ورته وټاکه. دا په خولو کي ورکړه چي پاکستان قلعه اسلام، دارالاسلام او یوازینی هېواد دی، چي د اسلام په شعار جوړ شوی دی. بس په همدې دې پښتانه وړیا اربکیان دي.

**دویم:** ملتپال یي په خپلو کي ښکېل کړه، د واک او امتیازاتو په تمه یي سره دوښمن کړه، قبیلوي شخړې ورجوړوه، په سني و شیعه یي وویشه، تربورګلوي په کي چاغه کړه، له ښوونځیو او پوهنځیو یي لرې ساته، شعوري یووالي او ویښتیا ته یي مه پرېږده. ترهرڅه وړاندي یي ملتپال وروځپه.

**دریم:** په واک او پوځ کي یي انفرادي شامل کړه، پرېږده چي تر لوړو ځوکیو ورسیږي، خو د افرادو په توګه. هیڅکله یي د ملتپالو جوړښتونو په چوکاټ کي سیاست ته مه راوله. د ملتپالو پرځای یي بنسټپال او استخباراتي دینچاري پیاوړي کړه، مدرسي ورکړه او مریدان ورته ونیسه.

له دې سره به پاکیستان‌میشتي پښتانه هم ستا شي او ساده کلیوال افغانستان‌میشتي پښتانه به هم تر خپل افیوني اغېز لاندي خپل وړیا سرتیري کړي.

بلوځ ملتپال مبارزین په دوو دلایلو تر پښتنو ملتپالو بریالي او ګواښمن دي، لومړی دا چي د استخباراتي مدرسو په جال کي ښکېل نه شول. او دویم ملتپال مبارزین یي د پاکستاني استبلیشمېنټ په جال کي ونه‌نښتل. د ځوکیو نیولو په لیونتوب کي یو له بل سره دوښمني ته د پاکیستان‌پلوی سیالي پیل نه کړې.

په افغانستان کي له پاکیستان څخه کرکه په یوه قاطع عامه ذهنیت بدله شوی ده، دا کرکه دومره عمومي او ساري ده، چي که هرڅوک غواړي په افغانستان کي واک ولري، ښایي لږ ترلږه خپله پاکیستان‌پالنه پټه کړي. کېدلای شي د واکمني وسلوالي ډلي ځیني عام او په قاعده کي بی صلاحیته غړي به د ملي ولولو تر اغېز لاندې رېښتیا هم د پاکیستان مخالف وي، یا به یي په منځ کي ځیني فرکسیونونه له دې هېواده کرکه لري، خو مبهمه تصمیمنیونکي هسته لاهم تر بشپړ استخباراتي کنترول لاندې ده.

پاکیستان پر افغانستان واکمني ډلي باندې د فشار راوړلو او دوی په خپل مدیریت و کنترول کي ساتلو لپاره خورا ډېر ریزرفونه په لاس کي لري. ملا فضل‌الرحمان له خپلي هیندوستاني ژېړې پګړی سره لاهم ایډیولوژیک راج چلولای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

شي. د اکوړه خټک حقانیه مدرسه او زرګونه نورې هډې لا هم د کنترول د ریموټونو کار ورکوي .پر افغانستان د واکمنو د کورنیو، شتمنیو او کاروبارونو د یرغملتیا مهمه برخه خو لا هم د پاکیستانیو په واک کې ده.

د پاکیستاني طالبانو د خرپ و ترپ چاودنې و وژنې پاکیستاني استخباراتو ته څو ګټې لري:

**لومړی:** ټولې نړۍ ته ورښیي، چې پاکیستان د ترهګرو روزونکی او پالونکی نه، بلکې ګواکې د ترهګرۍ قرباني دی او دا په حقیقت کې افغانان دي، چې هم خپل وطن او هم پاکستان او د نړۍ نور هېوادونه ګواښي.

**دویم:** په دې ګډوډۍ کې ریښتیني پښتني ملتپال ځواکونه او غورځنګونه په اسانه ځپل کېدلای شي.

**دریيم:** ظاهراً په پاکیساني تالیبانو پسې راوتلی پاکیستاني پوځ ټوله پښتني سیمه لاندې کوي، خپل هر ډول مخالفین ځپلی شي او ملتپال غورځنګونه له پښو غورځولای شي. په دویم ګام کې ځان خپل سراتیژیک عمق ته هم رسولای شي او هغه په افغانستان کې دننه پوځي – استخباراتي جال غوړول دي.

**څلورم:** پوځ خپل بشپړ واک ساتې او په ټولیزه توګه دیموکراتیکو جوړښتونه ته د مخالفت او ځان خوځولو وخت نه پاتیږي .

پینځم: امریکا ته ویلای شي، چې موږ لا هم د نیابتي جګړو د غځولو توان لرو او هرځای دا چاره ترسره کولای شو.

**شپږم:** ټولې خونړۍ پېښې د پښتنو او بلوڅو په سیمو کې متمرکزې او منحصرې دي، دلته خو یو پښتانه تباه کیږي او د «ریاست!» دوښمني ته زړه ښه کولای نه شي، بله خبره دا ده، چې د ځپل شویو سیمو ټول اقتصادي امکانات او سرچینې (اوبه، کانونه، بشري ظرفیت، کرنیز محصولات او نور) به وړیا پنجاب ته وررسیږي.

پاکیستان لکه لړمه د خپلو بچو په غوښو پایي، خو ستراتیژیک اهداف یې ډېر پاخه ټاکلي. چې غواړي په هره بیه او خورا خونړیو لارو هم ځان ورورسوي.

له دې لړمې د ژغورنې ایکې یوه لاره ده؛ د ټولو افغانانو او تر ډیورند کرغېړنې کرښې پورې غاړه پښتنو ویښتیا او روښانتیا، یووالی او لوړ سیاسي شعور.

د انګریز او پاکیستان له زړو چلونو او دسیسو یې خبرول او د دوی د شعوري ارادې په رڼا کې له روان ناورین څخه د ټولې افغاني جغرافیې ژغورل.

**«بلـه هېـڅ لیدلې نه شي پـه دا منځ کې**
**یا مغول له مینځه ورک یا پښتون خوار»**

**ویښتیا، روښانتیا او بدلون**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ